# پښتو په نصاب کښې

امجد شهزاد



زمونږ په وطن کښې نن هم يو طبقاتي نظام تعليم رائج دے. پښتونخوا کښې په سوونو اسلامي مدرسې دي چې د پښتنو يو لوئے شمېر ماشومان پکښې اسلامي او ديني علوم حاصلوي. په دغه مدرسو کښې اکثر زدکړه په عربۍ ژبه کښې کېږي په دوېم نمبر زمونږ سره سرکاري ادارې دي چې ذريعه تعليم پکښې په لسو ضلعو کښې تر پينځمه پښتو ده نور په ټولو کښې اردو او اعلي تعليم کښې انګرېزي د تدريس ژبه ده. په درېم نمبر زمونږ سره هغه انګلش مېډيم سکولونه دي چې د منځنۍ طبقې ماشومان پکښې سبق وائي. څلورم نمبر هغه تعليمي ادارې دي چې د جاګيردارو او سرمايه دارو نه علاوه پکښې بل څوک د خپلو بچو د تعليم تصور هم نۀ شي کولے.

کۀ مونږ د پښتو د لازمي مضمون يا د بنيادي تعليم تر حده د ذريعه تعليم په توګه نافذوو نو بايد چې دغه ټولې ادارې په نظر کښې ولرو. صرف په سرکاري سکولونو کښې تر انټرمېډيټ پښتو لازمي ګرځولو سره بيا هم د پښتنو زده کوونکو يو لوئے شمېر د پښتو زده کولو نه محرومه پاتې کېږي.

د ۱۸ فرورۍ د انتخاباتو په نتيجه کښې په پښتونخوا کښې د قام پرست ګوند اې اين پي حکومت راغلے دے. اې اين پي ته په صوبه کښې د امن وامان د قائمولو، د بې روزګارۍ ختمولو ،د صوبې د نوم بحالولو سره سره د پښتو ژبه ذريعه تعليم او لازمي مضمون ګرځولو کار هم ور په غاړه دے او د دې اهدافو ترلاسه کولو د پاره دوي له خلقو ووټ ورکړے دے.

د اې اين پي په منشور کښې د تعليمي پاليسۍ لاندې په پينځم نمبر شق کښې د ذريعه تعليم په حواله ليکلي دي " ذريعه تعليم به په مورنۍ ژبه وي، د تعمير او ترقۍ د پاره به په نورو ژبو کښې هم د تعليم بندوبست کولے شي" (صفحه نمبر ۱۳)

د اې اين پي په انتخابي منشور کښې کۀ يو طرفته د بنيادي تعليم مفت ورکولو د جي ډي پي شپږ فيصده تعليم ته ورکولو د طبقاتي نظام تعليم ختمولو او د يو جديد تعليمي نظام جوړولو سره سره دا وعده هم کړې ده چې زمونږ پارټي به بنيادي

تعلیم پـه مـورنـۍ ژبـه کښې ورکـول یقیني کـوي (اې این پي انتخابي منشور صفحه نمبر ٤ تعلیم شق نمبر ٤)

په اقتدار کښې د راتلو نه پس کۀ د وزیراعلي د سلو ورځو په تفصیلي پلان کښې د پښتو ژبې هیڅ ذکر نۀ هم شته خو د وزارت د تعلیم له خوا ځو ځو واره د دې خبرې پخلے شوے دے چې بنیادي تعلیم به په پښتو کښې وي او تر انټرمېډیټ به د پښتو د لازمي مضمون په توګه نافذولے شي او اوس خو حکومت باقاعده تر انټرمېډیټ پښتو لازمي مضمون په توګه د رائج کولو اعلان کړے دے.

د دې اعلان نه پس په دې حواله یو بحث شروع شوے دے. د دې په حمایت او مخالفت کښې بیانونه راغلي دي. د نورو ژبو ویونکو دانشورانو ورونو له طرفه په خصوصي توګه د دې اعلان غېر اصولي مخالفت روان دے.

په پښتونخوا کښې سرائیکي هندکو او نورې ژبې صرف ۲۸/۲۷ فیصده خلق وائي په دغه ژبو کښې هندکو به صوبه کښې ۱۸ فیصده خلق وائي او په ټول پاکستان کښې ئې ۲ فیصده خلق وائي (په پښتونخوا کښې کۀ مونږ د فاټا د پښتنو شمېره هم شامله کړو نو بیا د هندکو ویونکو فیصدې ډېره کمه راځي).

د مارچ ۱۹۹۸ د مردم شمارۍ مطابق د دې صوبې ټوله ابادي ۱۷ ملین ده کۀ د فاټا ۵،۷ ملین هم پکښې شامله کړو نو ۲۲،۷ ملین جوړېږي. د صوبې د بندوبستي علاقې د ۷۳،۹ فیصده خلقو مورنۍ ژبه پښتو ده. د فاټا د ۵،۷ ملین ابادۍ مورنۍ ژبه سل په سله پښتو ده. د دې شمېرې له لحاظه په دې صوبه کښې د ۹۰ فیصده خلقو مورنۍ ژبه پښتو ده. فاټا زمونږ د نظام تعلیم برخه ده خو هلته هم پښتو د ذریعه تعلیم په توګه رائجه نۀ ده. صرف د لازمي مضمون په توګه ښودلے کېږي.

> د اې این پي په منشور کښې د تعلیمي پالیسۍ لاندې په پینځم نمبر شق کښې د ذریعه تعلیم په حواله لیکلي دي " ذریعه تعلیم به په مورنۍ ژبه وي، د تعمیر او ترقۍ دپاره به په نورو ژبو کښې هم د تعلیم بندوبست کولے شي" (صفحه نمبر ۱۳)

پښتونخوا کښې د مردان، چارسدې، نوښار، صوابۍ، سوات، ملاکنډ، بره دیر، کوز دیر، شانګله، بونیر او د پېښور ضلعې په خواوشا کلیو کښې پښتو تر پینځمه ذریعه تعلیم ده (پېښور ښار کښې پښتو ذریعه تعلیم نۀ ده) خو په پاتې څوارلسو ضلعو کښې، چرته چې د چترال نه علاوه په نورو دیارلسو ضلعو کښې پښتانۀ په ګڼ شمېر کښې آباد دي پښتو نه ذریعه تعیم ده او نۀ دلازمي مضمون په توګه ښودلے کېږي. دغه ضلعې چترال، کوهستان، بټګرام، مانسهره، ایبټ اباد، هري پور، ټانک، ډېرو، بنو، لکي مروت، کرک، کوهاټ، هنګو او د پېښور دې چرته چې پښتو لازمي نصاب برخه نۀ ده. پښتونخوا کښې د پښتو زیات مخالفت د هزارې ډویژن ته کېږي حالانکې هلته هم ۴۰ فیصده پښتانۀ اوسي او ۶۰ فیصده نورې ژبې ویونکي اباد دي.

د پښتو مخالفت کوونکو کښې د ګندهاره هندکو بورډ جنرل سکرټري ضیاءالدین ترټولو

وړانـدې دے. وائـي چې پښـتـو پـه نـورو قومونـو ورتپل نا انصافي ده. دوي دا دليل وړاندې کوي چې د ابادۍ په لحاظ خو په ټول ملک کښې پنجابي لويه ژبه ده نو کۀ وفاق دا په ټول ملک کښې لازمي مضـمون وګرځـوي نـو څنګـه بـه وي. ښـاغلے ضياءالدين دا هم وائي چې اقوام متحده په مورنۍ ژبو کښې د تعليم حق ورکړے دے نو هر څوک حق لري چې په مورنۍ ژبه کښې زده کړه وکړي.

عرض دا دے چې اقوام متحده دا حق صرف هغه مورنيو ژبو ته ورکړے دے چې کومې د تعليم ورکولو جوګه وي دلته مونږ يو ځل بيا د اې اين پي د منشور دغه وعده نقل کوو چې د تعمير او ترقۍ دپاره به په نورو ژبو کښې هم د تعليم بندوبست کولے شي د پښتو رائجول هرګز دا معني نۀ لري چې نورې ژبې د خپل حق نه محرومه کړے شي، بلکې د پښتونخوا د ټولو لويو وړو ژبو ترقي د حکومت ذمه واري ده او بيا په تېره تېره د هندکو ترقي خو د پښتو سره وابسته ده. کۀ پښتو ترقي کوي يا دې په نصاب کښې ځائے مومي نو ګويا دا هندکو ته هم لاره برابروي. د اې اين پي ټولو مشرانو په وخت وخت د نورو ژبو د تحفظ او پرمختګ يقين دهاني کړې ده او د هغې دپاره چې کوم شرائط دي په هغې دلته د پښتو نه علاوه نورې وړې ژبې پوره نۀ خېژي.

په دې حوالـه د اې اين پي صـوبائي صـدر افراسياب خټک وائـي چې "کوم خلق چې د دې فېصلې صرف په دې وجه مخالفت کوي چې د کومو خلقو ژبه پښتو نۀ ده هغوي ته به مسئله جوړه شي، دغه خلق دا خبره ولې هېروي چې اردو او انګرېزي هم په دې سيمه د هېچا مورنۍ ژبې نۀ دي، کۀ د دې دواړو ژبو نه ناشنا ماشوم دا ژبې زده کولې شي نو پښتو زده کولو او وئيلو کښې څه مسئله ده؟ مونږ دا وضاحت هم ضروري ګڼو چې هندکو، چترالي او نورې هم د دې سيمې ژبې دي مونږ د دې د اهميت په کمولو يقين نۀ ساتو. مونږ دا هم وايو چې پښتو په زور پـه چا نـۀ ورتپـوو تـر څو چې د مېډيکل، انجنئرنګ او نور پېشه ورانه تعليم خبره ده نو په افغانسـتان کښـې دا پـه کاميـابۍ سره کېـږي. خـو زمـونږ دپـاره اوس دا قـدم وچتـول بـه د وخـت نـه وړانـدې وي. د دې دپـاره د اوږدې مـودې د پاليسـو ضرورت وي. مستقبل کښې دا ممکن کېدے شي خو اوس د پښتو د لازمي کولو نه مونږ يو اغاز کوو."

پښتانۀ د خپلو مشرانو نه هيله لري چې دوي بـه د جمهـوري اصـولو مطـابق هـره يـوه فېصـله د نافذولو نه وړاندې په اسمبلۍ کښې باقاعده بحث تـه وړانـدې کـړي. پـه جمهـوري طريقـه چې کـومې فېصلې وشي نو يقيناً چې ټولو ته به قابل قبول وي. کۀ تشـه بيـان بـازي او خـالي اعلانونـه وي نـو دا بـه ګټوره خبره نۀ وي.

بـل مـونږ چې څنګـه پـه اول کښـې ووې چې د سرکاري تعليمـي ادارو نـه عـلاوه غيـر سـرکاري تعليمـي ادارو دپـاره هـم څۀ کـوټلې پاليسـي جـوړه کـړي. د اې ايـن پـي سـره پـه خپلـه د باچاخـان ابجوکېشـن فاؤنډېشـن مثـال دے. دا يـوه غيرسـرکاري (انګلـش مېډيم) اداره ده خـو دا فاؤنډېشن تعليمي ماهرين لګيا دي د فاؤنډېشن د سکولونو دپاره جديد پښتو نصاب تياروي چې په دې سلسله کښې وړومبے کتاب چاپ شوے هم دے او د فاؤنډېشن په سکولونو کښې د لازمي مضمون په توګه ښودلے کېږي.